Cofinanțat de Uniunea Europeană

Programul Național Azil Migrație și Integrare
www.fed.mai.gov.ro

MINISTERUL AFACERILOR INTERNE
INSPECTORATUL GENERAL PENTRU IMIGRĂRI
Organismul intermediar FAMI

Consiliul Național Român pentru Refugiați

# په رومانيا کې د پناه غوښتنې پروسيجر



د پناه غوښتنې، مهاجرت او ادغام لپاره فنډ, ملي پروګرام 2021-2027
معلوماتي پاڼه- 2024

**CNRR يوه غير دولتي موسسه ده چې د کډوالو د مرستې په برخه کې تخصص لري**

## د پناه غوښتنې

طرزالعمل د هغو **دلایلو** پر اساس وي چې تاسو دهغو دلایلو لپاره د خپل اصلي هیواد پریښودوته مجبور شوې یاست او که تاسو بیرته لاړ شئ، تاسو به د خطر سره مخ شئ.

## د مهاجرت عمومي دفتر(I.G.I)

هغه واک دی چې ستاسو غوښتنلیک به تحلیل کړي او د پناه غوښتنې د منلو یا ردولو پریکړه به صادروي.

د قبولې په صورت کې، تاسو به د نړیوال خوندیتوب یوه بڼه ترلاسه کړئ: **پناه** او یا **اجتماعي قبولي**.

# د پناه غوښتنې د پروسې مرحلې

## 1. د غوښتنې سپارل

د پناه غوښتنلیک په **شخصي** ډول سپارل کیږی. د غوښتنلیک راجسټر کولو تر وروسته، هغوې لاندې کارونه سر ته رسوې:

- عکس اخیستل
- (سیسټم کې ثبت شي EURODAC ستاسو د ګوتو نښې به په) بایومټریک
- پلټنه
- د طبي معاینات

تاسو باید هغه اسناد چارواکو ته وسپارئ چې تاسو د رومانیا له پولې څخه تیریدو او هیواد ته د ننوتلو لپاره استعمال کړی وه او تاسو به د **لنډمهاله هویت سند ترلاسه کړئ**.

د پناه غوښتنې د غوښتنلیک د سپارلو څخه د پریکړې تر رسیدو پورې، ستاسو د غوښتنې په صورت کې د لاندې یاد شوې دفترونو استازې مرستې ته لاس کولاې شې:

- د یوې غیر دولتي موسسې د استازې (CNRR حقوقي مشاور)
- د UNHCR د استازې

دا ملاتړ **وړیا** دی!

تاسو کولاې شې چې ځان ته وکیل هم ونیسئ (په خپلو پیسو).

## 2. د مرکې ترسره کول

I.G.I به تاسو ته د لومړنی مرکې اودویمی مرکې لپاره مهالویش درکړي ترڅو د خوندیتوب اړتیا معلومه کړي. دا مهمه ده چې په تفصیل سره هغه دلایل وړاندې کړئ چې ولې تاسو د پناه غوښتنه کړې او ټولو پوښتنو ته په صادقانه توګه ځواب ورکړئ!

## 3. د I.G.I پریکړه

I.G.I به تاسو ته د پناه غوښتنې په اړه د پریکړې خبر درکړي. که تاسو د I.G.I پریکړې سره موافق نه یاست، تاسو حق لرئ د هغې پر خلاف چې **شکایت** درج کړئ:

- د پریکړې د رارسیدو وروسته د 10 ورځو په دننه (عادي کړنلاره) یا
- د پریکړې د رارسیدو څخه د 7 ورځو دننه (چټک کړنلاره / په سرحد کې)

که چیرې تاسو رد شي ، I.G.I به د پناه غوښتنې د ردولو پریکړه صادرولو په وخت کې د **بیرته ستنیدو پریکړه** هم صادره کړي.
که تاسو د ایمګریشن د پریکړې په وړاندې شکایت درج کړئ، د بیرته ستنیدو مکلفیت اجرا کول به د پناه غوښتنې پروسې تر بشپړیدو پورې **وځنډول** شي.

## 4. د شکایت څیړنه

شکایت به د باصلاحیته محکمې لخوا څیړل کیږي. محکمه به تاسو ته د محکمې د نیټې په اړه ستاسو په ورکړل شوي پته یو لیک واستوي او درته خبر درکوي چې په کومه نیټه تاسو باید محکمې ته حاضر شئ.
تاسو حق لرئ چې د خپل دفاع د تضمین لپاره وړیا قانوني مرستې ترلاسه کړئ، او هغه په لاندې ډول دي:

- یو حقوقي مشاور (CNRR)
- ټاکل شوی رسمي وکیل
- ځان ته وکیل نیول(په خپلو پیسو)

## 5. د محکمې پریکړه

که چیرې د پناه غوښتنې غوښتنه په **عادي طرزالعمل** کې د ایمګریشن لخوا رد شوې وي، او ستاسو شکایت د محکمې لخوا هم رد شي، تاسو کولای شې د محکمه د فیصله د اعلان څخه وروسته د **5** ورځو په اوږدو کې د **استیناف** غوښتنه وکړئ.

وروسته، تاسو باید د محکمې د پریکړې د خبرتیا نیټې څخه د **10 ورځو** دننه استیناف **توجیه** کړئ.
هغه محکمه چې د استیناف تحلیل کولو وړتیا لري به تاسو ته د راتلونکي محکمې د اوریدنې نیټې ستاسو د استوګنې په پته درلیګي. د دغه محکمېپریکړه آخري او قطعي وي.
که چیرې د پناه غوښتنې غوښتنلیک د ایمګریشن لخوا په **ګړندی کړنالرې او یا په پوله کې رد** شي، د اولې محکمې پریکړه وروستی ده.

**د وروستی پریکړې** په صورت کې کله چې د پناه غوښتنې غوښتنلیک رد شي، د بیرته ستنیدو پریکړې اجرا کول لازمي دي او تاسو باید د 15 ورځو دننه رومانیا پریږدئ.

# ګټورې اړیکې شمیرې

**د پناه غوښتونکو کړنلار او استوګنې سیمه ایز مرکز - ګلاتسی**

ګلاتسی - ساوینشتی کوڅه، ۲ شمیره

0236 32 38 78

c.galati.igi@mai.gov.ro

**د پناه غوښتونکو کړنلار او استوګنې سیمه ایز مرکز - بخارست**

بخارست، د وایسیلی ستولنیکول کوڅه ، نمبر 15، بلاک 13، سکټور 2

021 240 87 74

بخارست، ټوډور ګوچیو کوڅه، شمیره 24A، سکټور 4

021 450 11 34

c.bucuresti.igi@mai.gov.ro

www.igi.mai.gov.ro

**د پناه غوښتونکو کړنلار او استوګنې سیمه ایز مرکز - مارامورېش**

شکوته ماری، کوڅه چتاتسی، شمیره 1A

0262 28 00 04

c.maramures.igi@mai.gov.ro

**د پناه غوښتونکو کړنلار او استوګنې سیمه ایز مرکز - ردوتسی**

ردوتسی -کوڅه پریلور، شمیره 2

0230 56 44 62; 0230 56 44 63

c.radauti.igi@mai.gov.ro

**د پناه غوښتونکو کړنلار او استوګنې سیمه ایز مرکز- جیورجیو**

جیورجیو، بولواردول 1907، شمیره 1C

0246 21 50 56

c.giurgiu.igi@mai.gov.ro

**د پناه غوښتونکو کړنلار او استوګنې سیمه ایز مرکز- تیمیشوارا**

تیمیشوارا ، کوڅه آرمونیی، شمیره 33

0256 42 12 40

c.timisoara.igi@mai.gov.ro

**د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM)**

București, Strada Viitorului, nr.11, sector 2

021 - 210.30.50

iombucarest@iom.int

**د رومانیا د کډوالو ملي شورا**

بخارست، د ویسپاریلر کوڅه، نمبر 19

ټلیفون/فیکس: 031 405 02 75;

office@cnrr.ro

www.cnrr.ro

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ (UNHCR) - په رومانیا کې استازیتوب**

بخارست، الکساندرین کوڅه 20-22، سکټور 1

د UNHCR معلوماتي شمیره 0723 653 651

rombufeedback@unhcr.org ; rombu@unhcr.org

www.unhcr.ro

د پروژې په دننه کې جوړ شوي مواد په رومانیا کې د پناه غوښتونکو او د نړیوال خوندیتوب ګټه اخیستونکو لپاره ځانګړي قانوني مرستې او مشورې -